مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

شماره: ۷۶ (از ۳۱ جوزا الی ۷ سرطان ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## په دې ګڼه کې لاندې مطلبونه لولئ:


- مقدمه ........ ۳

## په ټاکنو او احتمالي کشمکشونو کې د رسنيو رول

- د رسنيو رول په بحران جوړونه کې ........ ۴
- رسنۍ او ولسمشريزې ټاکنې ........ ۵





ACKU

## پشت پردۀ حملات راکتی پاکستان به کنر


- تنش مرزی با پاکستان و انتخابات افغانستان ........................................................ ۷
- شکست مذاکرات صلح در پاکستان ........................................................ ۸
- ترس پاکستان از نفوذ هندوستان ........................................................ ۸
- بی‌تفاوتی نیروهای خارجی مستقر در افغانستان ........................................................ ۹
- نتیجه ........................................................ ۱۰






## مقدمه

په دې ګڼه کې په ولسمشریزو ټاکنو او د احتمالي کشمکشونو په رامنځته کېدو کې د رسنیو رول او د افغانستان پر ختیزو سیمو د پاکستاني ځواکونو د توغندیزو بریدونو د اهدافو په اړه د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز، د اوونۍ تحلیل د بورډ شنني لولئ.

* د غبرګولي میاشتې په ۲۴مه نېټه د ولسمشریزو ټاکنو دویم پړاو ترسره شو، چې د اټکلي پایلو له معلومېدو وروسته یوه نوماند د ټاکنو د پایلو له منلو انکار وکړ. که څه هم له لویه سره د ټاکنو د قومي کېدو وېرې زیاتې وې؛ خو له دویم پړاو ټاکنو وروسته د ډېرې رسنیو نشرات پاروونکې بڼه لري او داسې اندېښنې شته دي، چې د احتمالي کشمکشونو او ګډوډیو په رامنځته کېدو کې به، پراخ رول ولوبوي.

* دغه راز د پاکستاني پوځ له خوا د افغانستان پر ختیزو ولایتونو توغندیز بریدونه له تېرو څو کلونو راهیسې روان دي، چې حتی په افغانستان کې د ولسمشرۍ د دویم پړاو ټاکنو په ورځ یې هم دوام درلود او په اړه یې ورځ تر بلې اندېښنې زیاتېږي. د دغو بریدونو په اړه تر ډېره حقایق هم د دواړو هېوادونو د چارواکو له خوا ملت ته نه په ډاګه کېږي او داسې ښکاري، چې د دغو بریدونو تر شا مهم اهداف نغښتي دي. همدا موضوعات، د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل د بورډ له خوا څېړل شوي دي:

ACKU

# په ټاکنو او احتمالي کشمکشونو کې د رسنیو رول



په جګړه ییزو یا ښېړنیو او حساسو حالاتو کې خلک د معلوماتو په لټه کې وي او د معلوماتو او خبرونو سرچینو ته مراجعه کوي، ترڅو پوه شي چې څه کېږي او حالات کوم لوري ته روان دي. دا هغه وخت دی چې رسنيزې سرچینې خپل اهمیت مومي او کېدای شي په داسې حالاتو کې یو ناسم خبر له رسنیو خپور شي، خلک باور پرې وکړي او پر روان وضعیت زیات اغېز وکړي.

په افغانستان کې هم حالات په ځو اړخونو کې حساس دي، چې په اوسني وخت کې یې مهمې پېښې ټاکنې، د سولې بهیر، له هېواده د امریکایي ځواکونو وتل او امنیتي ترون، نشه يي توکي، اقتصادي برخه، روانه جګړه له ګاونډیو هېوادونو سره ستونزې او داسې نورې دي، چې په اوږده مهال کې د افغانستان پر حالاتو اغېز ښندي.

## د رسنیو رول په بحران جوړونه کې

طبعي بحرانونه او د بشر په لاس جوړ شوي بحرانونه دواړه پر یوه سیمه کلک اغېز ښندلی شي او ښایي له امله یې ولس او په ټوله کې نظام ته درانه زیانونه واوړي. رسنۍ نه یوازې دا چې په بحراني حالاتو کې د بحران د مدیریت په برخه کې مهم رول لري؛ بلکې خپله د بحرانونو په جوړولو او رهبري کولو او دغه راز د بحرانونو په مهار کولو او لوري ورکولو کې هم د پام وړ رول لري.

د رسنیو رول په دې اړه په دریو پړاوونو کې مهم دی: مخکې له بحرانه، د بحران پر مهال او له بحران وروسته. د کشمکشونو پر مهال په افغانستان کې د رسنیو د منفي رول په تړاو اندېښنه تر ډېره جدي ځکه ده، چې یو شمېر رسنۍ او د هغو ډېرې

کارکوونکي د پېښو تصویر په غیرمنصفانه او له افراط او تفریط ډک ډول تر خلکو ور رسوي او ډېری وختونه د اوازو له مخې، له باوري سرچینو او شواهدو پرته خبرونه خپروي.

دا خبره پوره څرګنده ده، چې دا مهال په هېواد کې د هر ډول کشمکشونو او اړدوړ په رامنځته کولو کې د رسنیو رول خورا مهم دی او هغه رسنۍ چې په دې برخه کې د هېواد ملي ګټې او راتلونکي زیانونه په پام کې نه نیسي، ښايي د کړکېچ د رامنځته کېدو پر مهال هم له دغسې نشراتو لاس وانه خلي.

دا مهال تر ډېره د بیان د ازادۍ تر نامه لاندې ډېری رسنۍ د هېواد ملي ګټو ته پوره زیان اړوي. په لومړي ګام کې باید د رسنیو مسؤولین دې چارې ته پوره پاملرنه ولري او د دې پر ځای، چې د بحران رامنځته کولو ته لمن ووهي، باید داسې نشرات ولري چې د کړکیچ د مخنیوي لپاره اغېزناک وي. په دویم ګام کې حکومت د دې مسؤولیت لري، چې د هېواد د ملي ګټو تر نامه لاندې په رسنیو کې د پاروونکو نشراتو او هغو موضوعاتو ته د لمن وهلو مخنیوی وکړي، چې د بحران او کشمکشونو په رامنځته کولو کې رول لري؛ ځکه لومړی خو دا چې د بیان ازادي هم خپلې پولې لري او بیا دا چې د هېواد ملي ګټې د بیان تر ازادۍ مهمې دي.

## رسنۍ او ولسمشریزې ټاکنې

په طبیعي ډول هغه کورنۍ او بهرنۍ رسنۍ چې په افغانستان کې مخاطبان لري، د یوه نه یوه نوماند د ګټو یا زیانونو په کړۍ کې وې او ډېرې کمې داسې رسنۍ وې، چې تر یوه بریده به بې پرې پاتې شوې وې؛ خو د هغوی سیاستونه هم په یوه نه یوه لوري متمایل وو. په تېره بیا د ټاکنو په دویم پړاو کې، چې د ټاکنو د قومي کېدو وېره هم زیاته وه او د رسنیو منفي او زیانمنوونکي رول هم اندېښنې زیاتې کړې. رسنیو د مشخصو نوماندانو په ګټه تبلیغات پیل کړل او تر ټولو بده دا چې د مشخصو نوماندانو پر ضد یې احساسات پارول او د خلکو له قومي او ژبنیو احساساتو یې کار واخېست.

که څه هم د ټاکنو خپلواک کمېسیون د رسنیو په نامه کمېسیون درلود؛ خو رول یې جوت نه وو او ځینې رسنیو د مشخصو نوماندانو په پلوی پراخ تبلیغات وکړل او بالاخره د ټاکنو فضا هم تر ډېره قومي او ژبنۍ بڼه غوره کړه. هغه پراخ اغیز ته په پام سره چې رسنۍ یې د ټولنو د عمومي افکارو د رهبري کولو په برخه کې لري، د نوماندانو د پلوي رسنیو له خوا د مقابل نوماند په اړه د منفي معلوماتو د نشرولو او د احساساتو د پارولو اوسنۍ بڼه هم پراخې اندېښنې له ځان سره لري.

په افغاني رسنیو کې یو ګروپ، چې لیدونکي او اورېدونکي یې هم زیات دي او ډېری رسنۍ یې د یوه مشخص نوماند په ګټه تبلیغات کوي، که څه هم پخوا هم په ژبني او قومي تبعیض تورن دي؛ خو په ټاکنو کې شوو درغلیو او ستونزو ته یې د خپلو

ACKU

بحثونو له لارې قومي بڼه ورکړه او حتی تر دې بریده یې ورسول، چې هم یې په ټول کې په دې پروسه خلک بې باوره کړل او هم یې د یوه ځانګړي لوري پر وړاندې کینه وپاروله، چې ښايي په راتلونکي کې ناوړه پایلې ولري.

د دې تر څنګ په رسنیو کې ځینې شنونکي هم د یوه او بل نوماند په پلوی د مقابل لوري په اړه منفي څرګندونې کوي، چې نه یوازې حقایقو او بې پرې تحلیلونو ته یې د خلکو مخه ډب کړې؛ بلکې په خلکو کې د ناوړه احساساتو د روزنې لامل هم شوې دي.

افغان دولت، د ټاکنو د خپلواک کمېسیون د رسنیو کمیسیون او نور اړوند ارګانونه هم د رسنیو لپاره د هر اړخیزو قوانینو، مقرراتو او لایحو په معرفي او تطبیق کې پاتې راغلي، ترڅو د عمومي افکارو په مدیریت کې د رسنیو غیر منسجم او نا کنټرول شوی رول منسجم شي. په تېره بیا په ټولنیزو رسنیو کې فضا بشپړه قومي او ژبنی بڼه غوره کړې ده او اغېز یې هم ډېر زیات دی.

له کله نه د ټاکنو دېموکراتیکه پروسه، چې له مخې به یې د لومړي ځل لپاره په سوله ییز ډول واک له یوه ولسمشر څخه بل ولسمشر ته لېږدول کېږي، له یو شمېر ستونزو او بې باوریو سره مخ شوه؛ په ټولنیزو شبکو، په ځانګړي ډول فېسبوک کې، پراخو او منفي تبلیغاتو دا ستونزې لازیاتې کړې. د دغو ستونزو د هوارولو لپاره د ملګرو ملتونو د سازمان منځګړیتوب ته هم مراجعه وشوه، چې په افغانستان کې د دغه سازمان ځانګړي استازي یان کوبیش هم دې مسئلې ته په اشارې سره ویلي، چې په ټولنیزو شبکو کې د نوماندانو پلویان ناسم تبلیغات کوي او باید له نفرت اچوونکو څرګندونو ډډه وکړي.

اوسمهال په ټولنیزو شبکو کې د فېسبوک کاروونکي په افغانستان کې هم ډېر زیات شوي او اغېز یې خورا زیات دی. په دغه شبکه کې دا مهال له عامو هېوادوالو نیولې تر ډېری جګپوړو سیاستوالو پورې داسې څه خپروي، چې قومي او ژبنیو تعصبونو او کشمکشونو ته لمن وهي او له همدې امله څو ورځې مخکې مشرانو جرګې هم په افغانستان کې د دغې شبکې د محدودولو غوښتنه وکړه او د ملي امنیت چارواکو هم دا چاره د اندېښنې وړ وبلله. که څه هم د اطلاعاتو او کلتور وزارت چارواکو دا هم ویلي وو، چې که موضوع تر دې هم جدي شي، ښايي د فېسبوک د محدودولو لپاره ګام اوچت کړي؛ خو داسې ښکاري، چې د دغې پراخې او اغېز ښندونکې شبکې مدیریت هم د نورو رسنیو په څېر بې برخلیکه پاتې دی او تراوسه په دې اړه کوم ګام نه دی اوچت شوی.

دا چې له دویم پړاو ټاکنو وروسته د ځینې ځانګړو لاملونو له مخې، د هېواد سیاسي وضعیت په حساس حالت کې دی او که دا حالت په سم ډول مدیریت نه شي، داسې اندېښنې شته دي چې هېواد به د ګډوډیو په لور ولاړ شي او له ګډوډیو او احتمالي کشمکشونو څخه د مخنیوي په لاره کې رسنی رغنده رول لوبولی شي. خو که رسنی د ولسمشری د ټاکنو اړوندو بحثونو کې له قوم پالنې، ژبنیو او ګوندي تعصبونو او پاروونکو نشراتو څخه ډډه ونه کړي، ښايي د هېواد د حالاتو په ګډوډولو کې به ستر رول ولوبوي.

# پشت پردۀ حملات راکتی پاکستان به کنر



## تنش مرزی با پاکستان و انتخابات افغانستان

راکت پراکنی‌های پاکستان به ولایت کنر ادامه دارد. مقامات افغان قبل از انتخابات این ماجرا را به انتخابات در پیوند دانستند و مدعی شدند که هدف پاکستان از هدف قرار دادن مناطق سرحدی در ولایت کنر، ایجاد اختلال در جریان دور دوم انتخابات است.

اما پاکستانی‌ها در آن زمان روایت دیگری از این جریان داشتند؛ رسانه‌های پاکستانی از قول منابع نظامی این کشور گزارش دادند که به دنبال حملۀ گروهی از افراد مسلح از طریق خاک افغانستان به یک پاسگاه مرزی در منطقۀ باجور اجنسی که منجر به کشته شدن یک مرزبان پاکستانی شد، نیروهای پاکستانی به اقدام متقابل دست زدند و مهاجمان با دادن کشته و مجروح، به سوی افغانستان عقب نشستند. در این حمله هلی‌کوپترهای گن شپ "gunships " نیز سهم گرفتند. چند روز بعد مقامات پاکستانی از کشته شدن چهار سرباز دیگر خود نیز خبر دادند و تهدید کردند که اگر جلو این حملات گرفته نشود، حملات بیشتری به خاک افغانستان انجام خواهند داد.

وزارت خارجۀ افغانستان نیز در تازه‌ترین واکنش، این حملات را تجاوز آشکار به قلمرو افغانستان خوانده و برای دفع آن از گزینۀ نظامی نام برده است. اما سید ابرار حسین سفیر پاکستان در کابل، از حملات راکتی پاکستان به کنر دفاع کرده و می‌گوید که این حملات، پاسخ به حملات شورشیانی است که از افغانستان وارد پاکستان می‌شوند.

سفیر پاکستان مدعی است که افغانستان در مرز کنر هیچ پوستۀ امنیتی ندارد و زمانیکه حملات بالای نیروهای مرزی آنان صورت می‌گیرد، آنها هم مجبور می‌شوند که برای دفاع از جان خود جواب بدهند، در حالی که وزارت داخلۀ افغانستان این اظهارات را رد می‌کند و می‌گوید که در مناطق مرزی ولایت کنر با پاکستان، نیروهای افغان جابجا هستند.

ACKU

آیا واقعاً هدف پاکستان از این حملات، اخلال در انتخابات بود؟ اگر به سابقهٔ این تنش‌های مرزی توجه کنیم، از آنجایی که این گونه راکت پراکنی‌ها از خاک پاکستان از بیش از سه سال بدین‌سو ادامه دارد، پس نمی‌توان آنرا با انتخابات ربط داد و وزیر دفاع افغانستان نیز در صحبت خویش در پارلمان، امکان حملهٔ افراد مسلح از خاک افغانستان به پاسگاه‌های مرزی پاکستان را، رد نکرد.

## شکست مذاکرات صلح در پاکستان

راکت پراکنی‌های قبل از انتخابات افغانستان را می‌توان بیشتر به شکست مذاکرات صلح پاکستان با طالبان این کشور رابطه داد. حقیقت امر اینست که بعد از انتخابات در پاکستان که به پیروزی حزب مسلم لیگ (ن) و تحریک انصاف به رهبری عمران خان منجر شد، این دو حزب طبق وعده‌ای که در جریان انتخابات به مردم داده بودند، مذاکراتی را به منظور صلح با تحریک طالبان پاکستان به رهبری حکیم الله محسود آغاز کردند. حکیم الله محسود در این جریان در نتیجهٔ حملهٔ یک طیارهٔ بی‌سرنشین امریکایی کشته شد.

بعد از آن، تحریک طالبان پاکستان برای تعیین رهبر جدید به رایزنی پرداخت و سرانجام مولانا فضل الله رهبر طالبان در سوات که اکنون در مناطق مرزی میان افغانستان و پاکستان بسر می‌برد، بحیث رهبر جدید طالبان پاکستان انتخاب شد. خان سید سجنا که به خالد محسود هم مشهور است، کاندیدای دیگر این مقام بود اما به دلیل تمایل وی به صلح با حکومت پاکستان، اکثریت اعضای شورای مرکزی به قیادت مولانا فضل الله رای دادند.

بدنبال شکست مذاکرات صلح میان طالبان پاکستانی و دولت پاکستان، نیروهای نظامی پاکستان عملیاتی را در منطقهٔ وزیرستان شمالی آغاز کردند. هدف از این عملیات هرچند تامین امنیت در پاکستان خوانده شده اما حقیقت اینست که سازمان استخبارات نظامی پاکستان می‌خواست رهبری جدیدی را به رهبری سجنا به میان آورد و سپس با همین گروه مذاکرات صلح را آغاز نماید.

## ترس پاکستان از نفوذ هندوستان

همانگونه که در افغانستان، ناامنی و جنگ به پاکستان و سازمان استخبارات نظامی آن کشور رابطه داده می‌شود، در پاکستان نیز فعالیت‌های شورشیان «چه بلوچها و چه طالبان» به سازمان استخباراتی هندوستان نسبت داده می‌شود که از طریق افغانستان عملی می‌شود.

آی اس آی خواهان تحکیم قدرت گروه‌هایی از طالبان در وزیرستان است که با پاکستان سر سازش دارند و نگران از آنست که وجود رهبری طالبان در خارج از پاکستان، به هندوستان فرصت ایجاد رابطه با طالبان را فراهم سازد. بخصوص که ملا فضل الله زمانی که در سوات مستقر بود، با خارجی‌ها رابطه داشت و حتی یک فرستندۀ رادیویی موج اف ام نیز از آنان بدست آورده بود.

با شکست مذاکرات و آماده‌گی نیروهای نظامی پاکستان برای عملیات در وزیرستان شمالی، طالبان به شکل برنامه ریزی شده، دست به حملۀ غافلگیرانه به میدان هوایی بین المللی کراچی زدند. این حمله توانمندی نیروهای انتظامی پاکستان را بشدت زیر سوال برد. هرچند گفته شد که تروریست‌ها نتوانستند به طیارات و مسافرین آسیبی برسانند، اما آسیبی که با این حمله به اعتبار دولت پاکستان در جهان وارد آمد، جبران ناپذیر بود.

در مورد دیگر یک طیارۀ خطوط هوایی پاکستان هنگام فرود در میدان هوایی پیشاور مورد حمله قرار گرفت و به نظر می‌رسد که طالبان به تأثیر حمله به طیارات ملکی پی برده‌اند که با این کار می‌توانند به اقتصاد پاکستان ضربۀ شدید وارد آورند.

مقامات پاکستانی در ابتدای کار هندوستان را در حملۀ طالبان بر میدان هوایی کراچی دخیل دانستند زیرا به ادعای آنان نزد حمله کننده‌هایی که کشته شدند، نوعی دوا به دست آمد که فقط در اختیار ارتش هندوستان است و برای کاهش خونریزی هنگام زخمی شدن از آن استفاده می‌شود. بعداً این حمله کننده‌ها ازبیک و وابسته به حرکت اسلامی ازبکستان خوانده شدند. در آخرین تحول، پاکستانی‌ها بدون اینکه سندی را ارائه نمایند، امنیت ملی افغانستان را نیز در این حمله دخیل خواندند. آی اس آی تلاش دارد تا هم حمله کننده‌گان و هم حمایت کننده‌گان آنها را خارجی قلمداد نماید.

## بی‌تفاوتی نیروهای خارجی مستقر در افغانستان

فیر راکت از آنسوی مرز به مناطق مرزی در ولایات شرقی افغانستان، به وقفه‌ها همچنان ادامه دارد. هرچند نیروهای مسلح افغان نیز در امتداد مرز در این منطقه مستقر گردیده و تهدید کرده‌اند که اگر بار دیگر راکتی از خاک پاکستان شلیک گردد، جواب متقابل خواهند داد، اما تاکنون از حملۀ متقابل آنان گزارشی داده نشده است.

نیروهای خارجی مستقر در افغانستان در برابر این حملات اعلام بی‌طرفی نموده‌اند. سفیر امریکا در افغانستان گفته است که نیروهای این کشور در معضلات موجود میان افغانستان و همسایه‌گانش مداخلۀ نظامی نخواهد کرد. این در حالیست که طرفداران امضای قرارداد استراتژیک با امریکا در افغانستان، به این امید بودند که با امضای این قرارداد، افغانستان در برابر همسایه‌گان مداخله‌گر خویش، از حمایت عملی کشور قدرتمندی چون ایالات متحدۀ امریکا، برخوردار خواهد شد.



ACKU

## نتیجه

حقیقت اینست که سازمان استخبارات نظامی پاکستان (آی اس آی) هرگز وجود رهبری مخالفین خود را در خارج از خاک آن کشور تحمل نمی‌کند (زیرا نگران نفوذ دیگران بخصوص هندوستان در میان مخالفین است) و بنابراین، این حملات را فقط می‌توان تحمیل فشار بر دولت افغانستان دانست تا تمهیداتی را روی دست بگیرد که به خروج طالبان به رهبری مولانا فضل الله از ولایت کنر منجر گردد، البته خود پاکستان نیز در این رابطه بی‌کار ننشسته است.

آی اس آی تعدادی از افراد را در داخل افغانستان اجیر کرد تا محل اختفای رهبران طالبان پاکستانی از جمله مولانا فضل الله را کشف نمایند. طالبان پاکستانی زمانی به این خطر پی بردند که در چند حملهٔ طیارات بدون سرنشین در کنر، تعدادی از طالبان افغان ونیز افراد نزدیک به ملا فضل الله کشته شدند. دقت در هدف گیری‌ها و در جاهایی که این حملات صورت گرفت زنگ خطری بود که برای طالبان پاکستانی وافغان به صدا در آمد و متوجه شدند که بدون وجود دست‌هایی در داخل صف خود شان، این کار ناممکن است. به دنبال آن تعدادی نقاب پوش به این مناطق فرستاده شدند، تا جاسوسان را شناسایی و مجازات نمایند. آنها نیز تعدادی از افراد را که ظن جاسوسی بر آنان می‌رفت دستگیر کردند و به دار آویختند.

پس می‌توان گفت مسایل پشت پردهٔ زیادی در رابطه به حملات راکتی پاکستان به مناطق مرزی افغانستان وجود دارد که پاکستان ترجیح می‌دهد دلایل آنرا واضح نسازد؛ اما جانب افغانستان نیز که نمی‌خواهد به وجود مخالفین پاکستان در داخل خاک خود اعتراف نماید، این حملات را به مسایلی چون تخریب پروسهٔ انتخابات از جانب پاکستان رابطه دهد درحالیکه واضح است که حملاتی که به مناطق مرزی کنر صورت گرفت، نتوانست مانع رفتن مردم به پای صندوق‌های رای حتی در ولایت کنر گردد، چه رسد به اینکه پروسهٔ انتخابات را در تمام افغانستان به چالش مواجه سازد.

ACKU

**ارتباط با ما:**

ایمیل:info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارهٔ تماس: 784089590 (+93)